## NWFP, PUBLIC SERVICE COMMISSION, PESHAWAR

### COMPETITIVE EXAMINATION FOR PROVINCIAL MANAGEMENT SERVICE, 2008.

## PUSHTO

Time Allowed: 03 Hours

Max: Marks: 100

نوټ: وړومبنے سوال لازمي دے. د نورو سوالونو نه د خپلې خوښې څلور سوالونه اوکړئ. د ټولو سوالونو نمبرې يو برابرې دي

يادګيرنه: په وړان کړے شوي او بيا ليکلے شوي جواب به نمبرې نشي ورکولے.

سوال نمبر ۱: په لاندينو سوالونو کښې درست ټکے په نخښه کړئ:

۱. د روښانيانو د شاعرۍ مهمه موضوع څۀ وه. (عشق، مرثيه نګاري، تصوف)

۲. د ګلدستې په نوم د ګلستان سعدي پښتو ترجمه چا کړې ده. (خوشحال خان خټک، مولانا عبدالقادر، عبدالقادر خان خټک)

۳. د حميد ماشوال کلام د کوم خصوصيت دپاره مشهور دے. (تصوف، حماسيت، نازک خيالي)

٤. د پښتو د وړومبي ناول څۀ نوم دے. (پېغله، ګل خان، نتيجه عشق)

۵. د خوشحال په يو شعر پوره کتاب چا ليکلے دے. (حمزه شنواري، مولانا عبدالقادر، پرېشان خټک)

٦. جديد پشتو ادب چا ليکلے دے. (پرېشان خټک، ايوب صابر، فضل حق شيدا)

۷. پښتو شعبه کله پرانستے شوې ده. (۱۹۶۱ء، ۱۹۶۲ء، ۱۹۶۳ء)

۸. خيرالبيان د کوم ملک په کتب خانه کښې موندلے شوے وو. (روس، جرمني، امريکه)

۹. د آزادۍ تلاش د څۀ کتاب دے. (سفرنامه ده، افسانه ده، ډرامه ده)

۱۰. د ابراهيم لودهي او بابر تر مېنځه دپاني پت په ميدان کښې جنګ کله شوے وو. (۱۵۲٦، ۱۵۵٦، ۱٦۲٦)

۱۱. د پټې خزانې مؤلف څوک دے. (سليمان ماکو، محمد هوتک، اسعد سوري)

۱۲. "قلب السير" د چا تصنيف دے. (ګوهر خان خټک، سکندر خان خټک، افضل خان خټک)

۱۳. د پښتو د جديد نثر باني څوک وو. (مولوي احمد، منشي احمد جان، ميا حسيب ګل)

۱٤. "پرنس" کتاب چا ليکلے دے. (سمندر خان سمندر، ميکاولي، ايوب صابر)

۱۵. د ارسطو د "Poetic" ترجمه د کتاب الشعر په نامه چا کړې ده. (قلندر مومند، مولانا محمد اسرائيل، سحر يوسفزے)

۱٦. "د کابل سفرنامه" چا ليکلې ده. (سمندر خان سمندر، حمزه شنواري، ايوب صابر)

۱۷. اخون درويزه بابا په ذات څۀ وو. (يوسفزے، تاجک، رانيزي)

۱۸. "مېرمن" د چا ډرامه ده. (اياز داؤدزئي، ډاکټر محمد اعظم اعظم، افضل رضا)

۱۹. "دمينې غېږ" د چا کلام مجموعه ده. (شمس الرحمٰن شمس، ايوب صابر، طاهر کلاچوي)

۲۰. "سپرلے په آئينه کښې" د کوم صنف سره تعلق لري. (شاعري، افسانه، ناول)

www.khyberpakhtunkhwapsc.gov.pk

سوال نمبر ۲: د لاندیني عبارت په آسانه پښتو کښې ترجمه اوکړئ:

"a"

In a shootout, between the two tribes, clans or families one or more persons are killed. Now the seeds of permanent enemity are sown. The murder or other excess inflicted must be avenged as and when they got the opportunity. The revenge may be passed on to the coming generations and may take a hundred years. The Pathans love to have the pleasure of tasting the sweet revenge. There are, however, some alternatives through which the conflict may be resolved.

"b"

د لاندینو نه صرف د درېو په پښتو کښې ترجمه اوکړئ:

1. Do not cry over spilt milk.
2. Though a clamity, it did not lost long.
3. To err is human.
4. Many hands make light work.
5. Debt is misfortune.
6. Some are joyful some in grief.

سوال نمبر ۳: د لاندیني عبارت په انګریزۍ کښې ترجمه اوکړئ:

"الف"

د تورې او قلم خاوند ننګیالي خوشحال دا ثابته کړه چې پښتنو کښې یواځې د تورې چلولو صلاحیت نۀ دے. قلم هم پورته کولے شي او بیا داسې چې د علم و فن پوهان ورته ګوته په غاښ ودرېږي. د پښتو ژبې په شعرو ادب کښې چې کوم مقام د خوشحال بابا نصیب شوے دے. هغه په دې ژبه کښې لا بل چا ته نۀ دے نصیب شوے او کېدے شي د چا نصیب هم نشي. البته اردو ژبه کښې مرزا غالب دغه مقام بیا موندے وو. چې په حېثیت د شاعر او نثار اردو ادب کښې هغه مقام لري. کوم چې پښتو ادب کښې خوشحال بابا لرلو. فرق صرف دا دے. چې مرزا غالب د وخت ناسازو حالاتو په ګیلو سر کړے وو. او بل خوا خوشحال خان بابا د وخت ګرانو کشالو ته هسکه غاړه او روڼ تندے ولاړ وو.

"ب" د لاندینو نه صرف د درېو په انګریزۍ کښې ترجمه اوکړئ:

۱. چې نۀ مرم څۀ به اومرم
۲. د سر د پاسه سر وي
۳. غم د پښتون جامه ده
٤. مرګ په بانه دے، دولت په هیله دے
٥. خپل کور یا خپل ګور
٦. چرته چې دب وي، هلته ادب وي

سوال نمبر ٤: رحمان بابا ته په پښتو ادب کښې دومره مقبولیت ولې حاصل دے، بحث پرې اوکړئ:

سوال نمبر ٥: اخلاقیات هم د پښتو شاعرۍ یوه اهمه حصه ده. د دې په رڼا کښې د خوشحال بابا په اخلاقي شاعرۍ بحث اوکړئ:

سوال نمبر ٦: د پښتو روماني داستانونو شریک خصوصیات کوم کوم دي. بحث پرې اوکړئ:

سوال نمبر ۷: د بایزید انصاري او اخون درویزه بابا شخړې پښتو ادب ته څۀ ورکړل؟

سوال نمبر ۸: د علي خان په عشقیه شاعرۍ په زړۀ پورې بحث اوکړئ:

---

www.khyberpakhtunkhwapsc.gov.pk